د تولسا دولتي ښوونځیو د ولسوالیو د ښوونځي پلاوي د اصولو په ملاتړ کې. (د خدماتي اداري نوم) به ټولو هغو زده کوونکو ته د مثبت مخنیوي پلس نصاب وړاندې کړي چې د بیالوژۍ په ټولګي کې داخل شوي دي. دا ۱۲-مجموعي، د شواهدو پر بنسټ جوړ پروګرام، زده کوونکو ته پوهه، باور او مهارتونه برابروي، کوم چې د دوی د جنسي اړیکې له لارې د لیږدېدو وړ ناروغیو (STIs)، د انساني ایمني نقصان وایرس (HIV) او نه پلان شوي امیدوارۍ ګواښ کموي. دا نصاب په سم ډول د متحده ایالاتو د روغتیا وزارت او بشري خدماتو له خوا کتل شوی دی. له طبي اړخه ټول درسونه دقیق، له عمر سره مناسب او د ټولو زده کوونکو نغاړونکي دي. دا نصاب به د (د خدماتو وړاندې کونکي اداري نوم) د روزل شویو روزونکو له خوا تدریس شي.

مثبت مخنیوي پلس منځنی ښوونځی لاندې معلوماتو ته پوښښ ورکوي:

- د نویو ځوانانو وده او پرمختګ
- د راتلونکو طرحو لپاره د موخو ټاکل
- اناتومي، د جنسیت پیژندنه او ښودنه او جنسي تمایل
- پرهیز، هغه یواځینی ټاکلي لارې چې له خوښې پرته امیدوارۍ او STI لکه د HIV ایډز، مخه نیسي
- سیمه ییزې سرچینې لکه د تولسا روغتیایي ډیپارټمنټ، د ټولنې روغتیایي اړیکه، او د سیمې نور روغتیایي مرکزونه کوم چې بیا تولیدي روغتیایي پاملرنه وړاندې کوي
- د بې خوښې امیدوارۍ او د HIV په څېر د STI د خطر کمول او پیژندنه
- د HIV او ایډز په اړه ټولنیز نظریات او پر HIV د اخته کېدو ناسم نظریات
- HIV او نور STI څه ډول لیږدول کېږي، د HIV او STI د مخنیوي منل شوي لارې، لکه پرهېز کول او کاندوم
- HIV او نور STI څه ډول درملنه کېږي
- امیدواري څنګه کېږي، د مخنیوي د لارو چارو په ګډون
- صحي اړیکي او د غېر صحي فعالیتونو او حالاتو څخه ځان ساتنه

د مثبت مخنیوي پلس موخه! د ځوانانو د داسې انتخاب لپاره وړ ګرځول دي، کوم چې بې خوښې امیدواري، یا په HIV او نورو STI اخته کېدل کم کړي.

د زده کوونکو ګډون رضاکارانه او محرم دی. په دې اړه چې ایا زده کوونکی د مثبت مخنیوي پلس! منځنې ښوونځي په نصاب کې ګډون کوي که نه، دا د دوی د والدینو یا سرپرستانو انتخاب دی. که چېرې دوی نه غواړي چې په دې پروګرام کې برخه واخلي، ستاسې د زده کوونکو د درس درجې ته به زیان ونه رسېږي. که دوی نه غواړي چې په دې پروګرام کې برخه واخلي. ته کولای شي هر وخت له دې پروګرام څخه خپل ماشوم لرې کړي.

د دې پروګرام د اغېزو د ارزولو او د نفوس پیژندنې د معلوماتو راټولولو لپاره به د زده کوونکو سروې وشي. په دې سروې کې ګډون رضاکارانه او محرم دی. د پروګرام د ارزونې سروې په بې نوم ډول تر سره کېږي. د سروې له راټولو شویوځوابونو څخه ټول راپورونه به په خلاصه کې وي. په راپورونو کې به د پروګرام ګډونوال معلوم نه شي.

ښوونځی به د والدینو د کتنې د یوې شپې کوربه وي، چېرته به چې تاسې د مثبت مخنیوي پلس! نصاب، د نصاب یوه ټولګټنه تر لاسه کړئ. دا به په (د ښوونځي نوم) کې، په (تاریخ) تر سره شي.

که نه شي کولای چې حاضر شي، ته کولای شي د دې ویبپاڼې **https://amplifytulsa.org/adults/tps-sex-ed/**. په کتنې سره نور معلومات تر لاسه کړې.
که نورې پوښتنې لرې مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ:

د محل تنظیمونکی:
د تلفون شمېره:
بریښنا لیک:

که نه غواړې چې ماشوم دې په پروګرام یا سروې کې ګډون وکړي، نو مهرباني وکړئ لاندې یوه خانه په نښه کړئ، لاسلیک یې کړئ او فورمه بېرته وسپارئ.

---

☐زما زده کوونکی................................ (د زده کوونکي نوم)، نه شي کولای د پروګرام په سروې کې ګډون وکړي، خو کولای شي په پروګرام کې برخه واخلي.

☐زما ماشوم..........................................(د زده کونکي نوم)، نه شي کولای په پروګرام کې برخه واخلي.

والدین/سرپرست لاسلیک ______________________ نېټه ______________________

<u>مثبت مخنیوی پلس: د عالي لیسې نصاب کتنه</u>

د مثبت مخنیوي پلس ("P3") عالي لیسې نصاب د لوړ معیار، د شواهدو پر بنسټ د جنسي روغتیا تعلیمي نصاب دی. په ۲۰۱۶ کې د خپرې شوې دې ته ورته کتنې وروستی موندنو د جنسي فعالیتونو په پیل کې د شمېرو له نظره د پام وړ تاخیر ښودنه کړې ده، د دې تر څنګ د زده کوونکي-والدینو تر منځ د جنسي روغتیا د مسائلو په اړوند اړیکي په شمېرو کې د پام وړ زیاتوالی ښودل شوی دی. په دې نصاب کې ۱۲ مجموعي شاملې دي، کومې به چې د انفرادي ښوونځي د اړتیاوو پر بنسټ د ټاکلي پلې کېدو جدول سره سم پلې شي. دا نصاب د والدینو/سرپرستانو د ګډون کلکه هڅونه کوي. يو شمېر کاري پاڼې به له زده کوونکو سره کورونو ته واستول شي، تر څو د جنسي روغتیا په موضوعاتو د زده کونکي او والدینو تر منځ د بحث هڅونه وشی.

- **پیل**
  - زده کوونکي به: د مناسب چلند لپاره د ټولګي لارښودونه پیدا او تعقیب کړي؛ د اناتومي، جنسیت پېژندنې او ښودنې او جنسي میلان اړوند شرایط به تر بحث لاندې ونیسي، د خپل منځي اړیکو او جنسي روغتیا په اړه له مخکې څخه شته پوهه (له مخکې ازموینه) ارزونه به خپله بشپړه کړي، د نویو څوانانو د جنسي روغتیا اړوند حقایق به وپېژني.

- **۱ لوست: د ژوند طرحه جوړول**
  - زده کوونکي به: د خپل شخصي ژوند موخې او طرحې وټاکي؛ د خپل ژوند د طرحو او اهدفو تر لاسه کولو کې به خپل ځانونه ووینې؛ هغه ګڼ اقدامات به وپېژني چې دوی ورته اوس اړتیا لري، تر څو خپلوموخو ته ورسېږي.

- **۲ لوست: صحي اړیکې**
  - زده کوونکي به: د مینې درې عناصر وپېژني؛ د نږدېوالي اته بڼې به وپېژني؛ هغه غېر جنسي لارې به وپېژني چې نږدېوالی تر لاسه کړي؛ د صحي اړیکې ځانګړتیاوې به وپېژني؛ د اړیکو د خپلو مهارتونو ارزونه به وکړي.

- **۳ لوست: د اړیکې ناسم چلند**
  - زده کوونکي به: تشریح کړي چې د صحي اړیکو لپاره رضامندي ولې یوه مهم اړخ دی؛ ژمنتیا به ولري چې په ځان او نورو کې ناسم جنسي چلند ته پای ورکړي؛ د جنسي قاچاق، جنسي پیغام استولو او پر لیکه له نابلده خلکو سره د کتلو په څېر له خطر ډکې جنسیت اړوند فعالیتونه به وپېژني؛ یو لړ د هغو لارو څرګندونه به وکړي چې خپل ځانونه خوندي کړي؟ په دې به پوه شي چې ناماسبو جنسي رویو ته څه ډول ځواب ووایي.

- **۴ لوست: انساني قاچاق**
  - زده کوونکي به: انساني قاچاق تعریف کړي؛ د جنسي قاچاق په ګډون، دا به تشریح کړي چې په متحده ایالاتو کې انساني قاچاق څومره عام دی؛ هغه خلک به وپیژني چې به اسانی د انساني قاچاق موخه ګرځي؛ د انساني قاچاق د خبرتیا نښې به وپېژني؛ له انساني قاچاق څخه د تېښتې او راپور ورکولو سرچینې به وپېژني.

- **۵ لوست: د نه پلان شوي امیدوارۍ څخه مخنیوی**

- زده کوونکي به:  د کورنۍ د مدیریت دلایل وپیژني؛ د حمل د مخنیوي یو لړ لارې چارې به وپیژني، د حمل او د جنسي اړیکي له لارې د لېږدېدونکو ناروغیو د مخنیوي د اغېزمنتیا په ګډون؛ جنسي پرهېز به د یواځینۍ هغې لارې په توګه وپېژني چې د بې خوښې امیدوالۍ او د جنسي اړیکي له لارې لېږدونکو ناروغیو مخه نیسي؛ د تولنې د کورنۍ مدیریت او د حمل مخنیوي خدمات به وپېژني، د جنسي اړیکي د ځنډولو یا ورځخه د ځان ساتلو ګټې به وپېژني.

- **۶ لوست: د تنکیو ځوانانو امیدوالیک انتخابونه او مسئولیتونه**
  - د TPS د پلې کېدو لپاره دا لوست لرې کړای شوی

- **۷ لوست: په HIV د اخته کېدو په اړه افساني او ناسم نظریات**
  - زده کوونکي به:  په HIV د اخته شویو خلکو په اړوند افسانو یاناسمو نظریاتو په اړه وپوهېږي؛ پر اشخاصو او د هغوی په کورنې ژوند د HIV/AIDS اغېزې به تشریح کړي؛ د معلولیت یا ناروغیو لرونکو اشخاصو په اړه به اندېښني څرګندې کړي، د هغو په ګډون چې په HIV اخته شوي دي.

- **۸ لوست: د  HIV/AIDS وبا**
  - زده کوونکي به: د AIDS وبا غتوالی تشریح کړي؛ د HIV د لېږد لپاره مایعات او د بدن لارې به وپېژني؛ هغه رویې به وپېژني چې یو شخص د HIV د انتقال له خطر سره مخ کوي، یا نه مخ کوي؛ دا به تشریح کړي چې PrEP، PEP او ART  څه ډول د HIV په مخنیوي او د اخته شوي تن په درملنه کې استعمالېږي.

- **۹ لوست: د جنسي اړیکې د لېږدېدونکو ناروغیو مخنیوی (STIs)**
  - زده کوونکي به:  عام STI او د دې نښې وپېژني او تشریح کړي؛ هغه لارې به تشریح کړي چې STI ورځخه لېږدول کېږي؛ د STI د معاینې او درملنې لپاره به د ټولنې سرچینې وپېژني.

- **۱۰ لوست: خوندیتوب او اړیکي**
  - زده کوونکي به: پرهیز به د داسې ۱۰۰٪ اغېزمنې لارې په توګه وپېژني چې د نه پلان شوي حمل، HIV او STI مخه نیسي؛ د حمل د مخنوي او HIV/STI د خپرېدو په برخه کې به د لیټیکس کانډوم د بریالیتوب او اناکامۍ اندازه وپېژني، د لیټیکس کانډوم د مناسبو کارولو تشریح به وکړي، د کانډوم په اړوند خبرو اترو مهارتونه به څرګند کړي. په دې لوست کې د کانډوم ښودل شامل دي.

- **۱۱ لوست: رسنۍ او د همزولو فشارونه**
  - زده کوونکي به: د لوړ ګواښ په فعالیتونو کې د مصروفېدو لپاره د همزولو، رسنیو یا ټولنې فشارونه وپېژني؛ دا به وپېژني چې ټول زده کوونکي د لوړ ګواښ په فعالیتونو کې برخه نه اخلي؛ د لوړ ګواښ په فعالیتونو کې د مصروفیدو د فشار څخه انکار/ مخنیوي د مهارتونو ښودنه به وکړي.

- **۱۲ لوست: د ټولنې سرچینو ته لاسرسی**
  - زده کوونکي به: تشریح کړي چې د HIV عفونیت څه ډول په خلکو کې خپرېږي؛ د HIV/STI د معاینې، مشورې او معلوماتو سرچینې به وپېژني.

- **۱۳ لوست: د بریالیتوب پر لور ګامونه**
  - زده کوونکي به: هغه فعالیتونه او انتخابونه وپېژني چې دوی د خپل ژوند له طرحو یا موخو څخه لرې کوي یا یې ورته نژدې کوي؛ ګڼې هغه اقدامات به وټاکي چې دوی ورته د خپل ژوند د طرحو او اهدافو په تر لاسه کولو کې اړتیا لري؛ له HIV/STI له عفونیت یا له نه پلان شوي حمل څخه د خوندیتوب لپاره به د ژمنتیا یو شخصي قرارداد جوړ او لاسلیک کړي؛ دا به و ارزوي چې دوی د دې نصاب په اوږدو کې څه زده کړي دي؛ د اوسنیو معلوماتو ارزونه به خپله بشپړه کړي (له ازموینې وروسته)، کوم چې د شخصي اړیکو او جنسي روغتیا اړوند دي.